دامیرِ اهلِ سُنّت دامت برکاتہم العالیہ د کتاب
"نیکی کی دعوت" یو قسط

# دیني ماحول نه د منع کولو نقصان

پښتو


شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیٔ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال
مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي
دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ،

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

(دا مضمون د کتاب ”نیکی کی دعوت“ صفحه 544 نه 565 پورې نه اخستے شوے دے)

## د ديني ماحول نه د منع کولو نقصان

**دُعائے عطّار:** يا رَبَّ المُصطفٰے ! څوک چې دا رساله”د ديني ماحول نه د منع کولو نقصان“ اولولي که واوري، هغه د ديني ماحول سره پيوست اوساتې او د مور پلار سره هغه بے حسابه اوبخښې. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

**د آخري نبي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** ” تاسو خپل مجلسونه په ما باندې په دُرُودِ پاک وئيلو ښائسته کړئ ځکه چې ستاسو په ما باندې دُرُودِ پاک لوستل به د قيامت په ورځ باندې ستاسو د پاره نُور وي.“ (جامع صغير، ص280، حديث:4580)

## د مړ کيدو نه مخکښې د ځلمي ګيره کور والؤ اوخريله!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** ډير افسوس! حالات ورځ په ورځ خرابيږي، يو خوا د مغربي تهذيب حملې، د فيشن زياتوالے، د فلمونو کتلو د پاره په هر کور کښې ټي وي، انټرنيټ او وي سي آر دے نو د بده مرغه بل خوا مسلمانان ويونکي عملاً د سنتو نه بيزاره په نظر راځي! د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونکے د اَورنګي ټاون، کراچۍ يو ځلمے عاشقِ رسول د کوم عمر چې به په مشکله 20 کاله وي، ګيره چې ئې د کله نه

راغلې وه پرېبښودې ئې وه، د هغه د وينې کېنسر (*Blood Cancer*) وو. زه (يعني سګِ مدينه عُفِيَ عَنه) د هغه د تپوس د پاره هسپتال ته لاړم، هغه په مرګوني حالت کښې وو... خبرې ئې نه شوې کولے... ګيره ئې د مخ نه لرې شوې وه، زه حيران شوم... هغه مظلوم مخ طرف ته په مشکله لاس وروړل او په اشاره ئې فرياد اوکړو... زه دومره پوهه شوم چې لکه هغه وئيل "ما مَعَاذَ الله! نه ده خريلې"

زما کور والؤ په اودو يا بے هوشئ کښې زما ګيره صفا کړې ده.! يو څو ورځې پس هغه غم ځپلے وفات شو. الله پاک دې مرحوم بے حسابه اوبخښي او د هغه د ګيرې صفا کوونکو ته دې د توبے توفيق نصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

رُوح میں سوز نہیں، قلب میں اِحساس نہیں        کچھ بھی پیغامِ محمد کا تمہیں پاس نہیں

## ځان ته مسلمانان وئيونکي د سنتو نه لرې والے

ډېر افسوس! نازک دور راغلے دے چې نن سبا مسلمانان خپل اولاد په زوره د سنتو نه لرې باسي بلکه په سنتو باندې د عمل کولو سره ورته بعضې وخت قسما قسم سزاګانے ورکوي، داسې داسې زړه زخمي کوونکې واقعې ليدلے شوې دي چې بس د الله امان. ډېرو اسلامي ورونړو چې د ديني ماحول نه د متاثره کېدو سره ګيرې پرېښودلې نو په خاندان کښې چې لکه زلزله راغلې وي! که په دهمکيانو او وهلو ډبولو باندې قلار نشو نو د ګيرې پرېښودو په سبب د کورونو نه ويستلے شول، د اوده کيدو په حالت کښې د عاشقانِ رسول ګيرې قينچي کړے شوې. د دعوتِ اسلامي د ديني کار د شروع

کيدو نه وړاندې واقعه ده، يو ځلمے د سګِ مدينه عُفِيَ عَنه خوا له تللو راتللو او کښيناستو پاڅيدو، په هغه باندې د ماحول اثر پريوتو. هغه کور ته په تللو راتللو "اَلسَّلَامُ عَلَيْکُمْ" وئيل شروع کړل، بعضې وخت په خبرو اترو کښې هغه "اِنْ شَآءَاللّٰه! " وئيل شروع کړل! مسلمانان ويونکي مور پلار ئې حيران شول! پوښتنې ترينه شروع شوې، د هغه نه په کور کښې پوښتنه اوشوه: ځويه! څه خبره ده نن سبا سلام کوې او اِنْ شَآءَاللّٰه! وائې! هغه د سنتو د ادنٰی خادم سګِ مدينه عُفِيَ عَنه نوم واخستو، بس لوبه ختمه، هغه په سختئ سره منع کړے شو چې خبردار! د نن نه پس د دې "مُلَّا" صحبت ته لاړ نشې! آخر هغه ماډرن جوړ شو.

وه دور آیا کہ دیوانۂ نبی کیلئے ہر ایک ہاتھ میں پتّھر دکھائی دیتا ہے

## د ديني ماحول نه په منع کيدو پوډري شو، پلار ئې پښيمانه دے

د دې سره داسې يوه بله عبرتناکه واقعه واورئ، د حيدر آباد (پاکستان) يو ځلمے غالباً په کال 1988ء کښې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته راغلے. د لمُونځونو د پابندئ سره سره ئې ګيره پريښودله، عمامه شريفه ئې په سر کړه. هغه په مدرسة المَدينه (بالغان) کښې سبق هم شروع کړو. د هغه تعلق د يو ماډرن او مالداره کورنئ سره وو، کور والا ئې د هغه په ژوند کښې په مدني انقلاب پوهه نشول، او د هغه مخالفت شروع شو، په قسما قسم طريقو به د هغه زړه آزارولے شو، د سنتو په لاره په تللو کښې به خنډان جوړولے شو او د دعوت اسلامي د ديني ماحول په پريښودلو به مجبوره کولے شو. هغه به کله نا کله په بے وسئ کښې فرياد کولو چې ما د دې ديني ماحول نه مه لرې کوئ ګنې بيا به خفه ئې، خو د هغه خبره چا نه اوريدله. د مخالفت دا سلسله تقريباً تر دريو کالو

پورې روانه وه آخر چې تنګ شو نو هغه د کور والؤ په مخکښې سلامي شو او ګيره ئې اوخريله او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ئې پريښودو. مشر ورور ئې ډاکټر وو نو ځکه ئې هغه هم د ډاکټر جوړولو د پاره د فيصل آباد (پنجاب پاکستان) په يو ميډيکل کالج کښې داخل کړو. چرته چې هغه په هاسټل کښې د خراب صحبت ښکار شو او چرس څښل ئې شروع کړل او سخت بيمار شو، کور والؤ هغه بيرته حيدر آباد ته راوستلو.

والد صاحب ئې په علاج باندې لکونه روپئ اولګولې خو نه ټيک شو او نه سم شو بلکه بيا هغه د هيروئن نشه شروع کړه. د ډيرې نشې کولو په وجه هغه وَچ کلک شو، غاښونو ئې سپين والے پريښودو او زيړ شول او اوس تر دې ليکلو پورې د هغه حالت د ليونو په شان شوے دے. د الله په رحمت سره د هغه والد صاحب د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته راغلے دے، او هغه ډير پښيمانه دے چې کاش! هغه وخت زه د دعوتِ اسلامي په اهميت پوهه شوے وے او ما خپل ځوي د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول نه نۀ وے لرې کړے نو کيدے شي نن ما دا ورځ نه وے ليدلے. خو "اوس که پښيمانه شې نو څه پرې." [وخت خو ترې تلے دے] الله پاک دې هغه ځلمي له د نشې د عادت نه نجات ورکړي او بيا دې ورله د دعوت اسلامي د مدني ماحول اختيارولو توفيق ورکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اولاد ښه تربيت اوکړئ ګنې بيا به پښيمانه ئې

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! په دې رښتني واقعه کښې د هغه والدينو د پاره عبرت دے کوم چې خپل اولاد د سنتو په اجتماع کښې د شرکت کولو، په مدني قافله کښې د

سفر د سعادت، د عاشقان رسول د صحبت او د ګيرۍ پرېښودو او عمامې شريف په سر کولو، د سنتو مطابق د جامو اغوستلو نه منع کوي او په سنتو باندې عمل کولو سره بيا بيا رټي بلکه د ديني ماحول نه په لرې کولو ئې مجبوره کوي، ياد ساتئ! ستاسو خوږ ځوي، ستاسو د زړه ټوټه او د خپلې مور د سترګو تور سهي خو دا مه هيروئ چې هغه د الله پاک بنده، د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمتي او د اسلامي معاشرې يو فرد دے. که ستاسو تربيت هغه ته د الله پاک په ښه طريقه باندې عبادت، د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سنت او په اسلامي معاشره کښې د هغه ذمه وارئ اونه ښائي نو د هغه د خپل فرمانبرداره بچي خوبونه هم مه وينئ ځکه چې دا اسلام دے کوم چې يو مسلمان ته د خپلو والدينو اطاعت او د هغوئې د حقونو ادا کولو سبق ښائي. دا په نظر راځي چې کله د اولاد د تربيت نه د غفلت اثرات مخې ته راځي نو هم هغه والدين هر کس ناکس ته د خپل اولاد د خرابيدو فرياد کوي، هغوئې دې دا نه هيروي چې اولاد دې حالت ته په رسولو کښې هم د دوئي لاس دے. دوئي خپل بچي ته ABC خو ښودلې ده خو قرآن مجيد ئې ورته نه دے ښودلے، د مغربي تهذيب طور طريقے خو ئې ورته ښودلې دي خو د رسولِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سنت ئې ورته نه دي ښودلي د جنرل نالج (عام معلومات) په اهميت باندې خو ئې ورته په ګهنټو ليکچرې ورکړې دي خو د فرض علومو د حاصلولو رغبت ئې نه دے ورکړے، د هغه زړه ته ئې د مال محبت خو اچولے دے خو د عشقِ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شمع ئې پکښې نه ده بله کړې، هغه ته ئې د دُنيا د ناکامو ويره ښودلې ده خو د قبر او حشر په امتحان کښې د ناکامۍ خطرتناکې نتيجے ئې ورته نه دي ښودلې، هغه ته ئې "هيلو! هاؤ آر يو!" وئيل خو ئې ښودلي دي خو د سلام کولو

صحیح طريقه ئې ورته نه ده ښودلې.

## د ګناه د کولو ښه پوره آزادي

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! ياد ساتئ! د ګناه کولو پوره آزادي، د کيبل او انټرنيټ سهولت ورکول، د ګډا او سندرو د محفلونو آباديدل او د کور خراب ماحول، دا ټول هر څه يو ځائے کيدو سره د کردار عظمتونه داغدار کوي او بيا د داسې انسان نه پاک کارونه مُحال خو نه وي خو ډير ګران ضرور وي. ځکه والدينو له پکار دي چې د خپل اولاد د ظاهري ښکلا، ښه خوراک، ښه جامو او ښه ضرورتونو د ذمه وارو پوره کولو سره سره د دوئي د ديني تربيت هم خيال اوساتي، او صرف د اولاد نۀ بلکه د ځان د اصلاح هم فکر کول پکار دي ځکه چې پخپله ښوک ډوبيږي هغه به نور څه بچ کړي! ښوک چې پخپله د غفلت په خوب اوده وي هغه به نور څه را بيدار کړي، ښوک چې پخپله د زوال په لور روان وي هغه به نور څنګه د ترقئ بام ته اورسوي! ځکه پخپله هم نيکئ کول دي، د الله پاک رضا موندل دي، خپل ځان د ګناهونو نه بچ کول دي، د دوزخ د وحشتونو نه بچ کول دي او د الله پاک په رحمت باندې جَنَّتُ الفردوس ته تلل دي او خپل خوږ اولاد هم په دې لاره بوتلل دي. د دې مقصد حاصلولو د پاره د دعوت اسلامي ديني ماحول يو زبردست نعمت دے. د قرآن او احاديثو او د بزرګان دين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د اقوالو په رڼا کښې د اولاد د تربيت د طريقے نه د ځان خبرولو د پاره د دعوت اسلامي د مکتبة المَدينه د 188 صفحاتو کتاب "تربيتِ اولاد" ضرور اولولئ.

سُونا جنگل رات اندھیری، چھائی بدلی کالی ہے
سونے والو جاگتے رہیو چوروں کی رَکھوالی ہے

(حدائق بخشش، ص185)

شَرح کلامِ رضا: د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې شعر معنٰی دا کيدے شي چې اے مسمانانو! د

دي دُنيا ځنګل شاړ او غير آباد دے، شپه ئې هم تياره ده او د پاسه پرې توره وريځ هم راخوره ده، په داسې خطرناک حالت کښې خو اول خوب نشي راتللے او که بيا هم اوده شوي ئې نو فوراً راپاځئ ځکه چې د دې ځائے حفاظت کوونکي به ستاسو حفاظت خاورې کړي دا خو پخپله لوټ ماران دي. يعنې د غفلتونو او د نفس د خواهشاتو په هر لور تياره شوې ده، دا نفس او شيطان کوم چې هر وخت ستا سره دي دا خپل خير خوا مه ګڼه دا محافظ نه بلکه غل دے. خبردار! بيدار!! ويخ اوسه!! چرته دا ستا ايمان پټ نه کړي.

چند روزه ہے یہ دنیا کی بہار
دل لگا اِس سے نہ غافِل ذی نَہار

عُمر اپنی یوں نہ غفلت میں گزار
ہوشیار اے مَحوِ غفلت ہوشیار

ایک دن مرنا ہے آخِر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے آخِر موت ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آيا ځوي هم چرې پلار وهي؟

په تَنبِيهُ الغافلين کښې دي چې د "سمرقند" د يو عالم دين حضرت ابو حفص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا له يو کس راغلے او اوئې وئيل: "زما ځوي زه وهلے يم." هغه په حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: آيا ځوي هم پلار وهي؟ هغه اووئيل: آو جي! هم داسې شوي دي. حضرت ابو حفص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ترينه پوښتنه اوکړه: آيا تا هغه ته علم او ادب ښودلے دے؟ هغه کس په نۀ کښې جواب ورکړو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پوښتنه اوکړه: قرآن کريم دې ورته ښودلے دے؟ هغه اووئيل: نۀ. بيا ئې پوښتنه اوکړه: نو هغه څه کوي؟ هغه اووئيل: زميندارې کوي. حضرت ابو حفص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: تا ته معلومه ده چې هغه تاسو ولې وهلي ئې؟ اوئې وئيل: نه. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اصلاح د پاره هغه ته اوفرمائيل: کيدے

شي هغه سحر په خر باندې د سورلئ کولو سره چرته د پټو په لور روان وو، غوئے به د هغه نه مخکښې او سپے ورپسې وو، قرآن پاک خو هغه له ورتللو نه چې څه روحانيت ئې نصيب شوے وے بس هسې به ئې په غفلت کښې څه وئيل، په دې کښې به تاسو هغه له مخې له ورغلي وئ، هغه به دا ګڼلي وي چې غوئي مخې له راغلے دے او د هغه د لرې کولو د پاره به ئې درله سر په څه ويشتے وي! شکر اوباسئ چې ستاسو سر نه دے مات شوے. (تنبيه الغافلين، ص68)

## په محشر کښې به د وهلو سره د پلار غوښه ورژيږي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوکتلو! د خپل اولاد د اسلامي تربيت نه کولو انجام! نن هم داسې بے شميره پلاران په نظر راځي د کومو چې به دا شکايت وي چې زمونږه اولاد مونږ ته کنځل کوي، مونږ سره په اوچت آواز خبرې کوي، مونږه وهي او د کور نه د ويستلو دهمکيانې راکوي. بس د مور پلار د دنيا او د آخرت کاميابي په دې کښې ده چې عين د شريعت او سنت مطابق د اولاد تربيت اوکړي. ګني که دنيا ئې ښه هم شي نو په آخرت کښې به ئې د عافيت حاصلول ګران شي. د اولاد ښه تربيت نه کوونکي يو پلار په باره کښې يو زړه درزوونکے روايت واورئ، فقيه ابوالليث سمرقندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل کوي: روايت دے چې د نارينۀ سره په تعلق لرونکو کښې وړومبے د هغه ښځې او د هغه اولاد دے، دا ټول (يعني ښځه، بچي به د قيامت په ورځ) د الله پاک په بارګاه کښې عرض کوي: اے زمونږه رَبَّه! مونږ له د دې کس نه زمونږه حق واخله، ځکه چې ده کله هم مونږ له ديني تعليم نه وو راکړے او ده به په مونږ باندې حرام خوړل د کومې چې مونږ ته پته نه وه، بيا به هغه کس په حرامو ګټلو دومره

اووهلے شي چې د ده نه به غوښه ورژيژي بيا به دا د ميزان (تلې) خوا له راوستے شي، فرښتے به د غر برابر د هغه نيکۍ راوړي نو د هغه په عِيال (يعني بال بچ) کښې به يو کس راوړاندې شي او وائي به: ”زما نيکۍ کمې دي.“ نو هغه به د هغه د نيکو نه واخلي، بيا به بل راوړاندې شي او وائي به: ”تا په ما سود خوړلے وو.“ او د هغه د نيکو نه به واخلي، دغه شان به د هغه کور والا د هغه ټولې نيکۍ يوسي او هغه به خپل کور طرف ته د غم او مايوسۍ په نظر ګوري او وائي به: ”اوس زما په شا باندې هغه ګناهونه او ظلمونه پاتې شول کوم چې ما ستاسو د پاره کړي وو.“ (هغه وخت به) فرښتې وائي: ”دا هغه (بد نصيبه) کس دے د چا نيکۍ چې د هغه کور والا يوړلې او دا د هغوئي (يعني د کور والؤ) په وجه دوزخ ته لا ړو.“ (قرة العيون، ص401)

## کوم چې د کور والؤ په وجه د ديني ماحول نه لرې شول

پته نه لګي چې داسې څومره اسلامي ورونړه به وي کوم چې د دعوت اسلامي نه د متاثره کيدو سره ګيرې پريښودې وي، په نورو فرائضو، واجباتو او سنتو باندې به ئې د عمل ترکيب جوړ کړے وي، خو د کور والؤ يا د بل چا په مخالفت به ئې زړه مات شوے وي او د دعوت اسلامي د سنتو د ديني ماحول نه به لرې شوے وي. د داسې [خلقو] په خدمت کښې د سګِ مدينه عُفِيَ عَنه لاس نيولو سره خواست دے چې دعوت اسلامي ستاسو خپل د سنتو تحريک دے، مهرباني اوکړئ! د هغې نه مخکښې مخکښې را واپس شئ چې مرګ تاسو د دنيا د رنګينو نه د قبر تنهائي ته کوز کړي او ستاسو دا آرمان پاتې شي چې کاش! په دُنيا کښې مې ډيرې نيکۍ کړې وے. همت اوکړئ! د ګناهونو نه د حفاظت او په نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته يو

ځل بيا راشئ. کيدے شي بيا مخالفت نه وي، يا که وي نو هم د مخکښې نه کم وي ځکه چې د وخت سره سره حالات او خيالونه بدليږي، خو ياد ساتئ چې د مخالفت په شکل کښې هم تاسو ته صرف د نرمۍ نه کار اخستل دي او په خبرو او کردار او عادتونو کښې داسې مدني انقلاب راوستل دي چې کور والا اووائي: ''واه ځومره ښه خبره ده د دعوت اسلامي!'' ستاسو د ترغيب د پاره تاسو ته يو مدني سپرلے اوروم،

## په راغورځيدو سره سم شو

د پنجاب (پاکستان) د ضلع مظفر ګړه يو اسلامي ورور چې کله د دعوت اسلامي د ديني ماحول نه متاثره شو او ګيره ئې پريښوده نو په کور کښې د ديني ماحول د نشتوالي له کبله ئې داسې مخالفت اوشو چې مَعَاذَ الله! ګيره ئې کټ کړه خو هغه د دعوت اسلامي سره خپل تعلق نه پريښودو. د سنتو هفته واره اجتماع کښې به ئې ځائے په ځائے حاضري کوله، په دې باندې چې به لکه د هغه ''بيټري چارج'' کيدله او د لمُونځونو پابندي جاري وه. د څه مودې تيريدو نه پس بيا جذبه ژوندۍ شوه، ذهن جوړ شو او هغوئي بيا ګيره لويه کړه، بيا مخالفَت شروع شو، دا ځل د مخکښې په مقابله کښې د لږې مودې د پاره د مخالفت سره مخ وو خو بيا ئې همت اوبائللو او اَسۡتَغۡفِرُ الله هغه ګيره کټ کړه. آخر په دريم ځل ئې همت اوکړو او هغه ګيره پريښوده، بيا د کور والؤ له طرفه تش په نوم مخالفت اوکړے شو او اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! هغه په ګيره غټولو کښې کامياب شو. تر دې چې عمامه ئې په سر کړه او د دعوت اسلامي ديني ماحول ته پوره راغلے او ديني کار ئې هم شروع کړو. نن (تر دې ليکلو ئې) 14 کاله کيدونکي دي، ګيره ئې اوس هم شته او په سر باندې د عمامې شريف تاج موجود دے، الله پاک دې د دې سنتو سره قبر ته د ورلو

سعادت نصيب كړي. اٰمين. (هغه وائي چې) نن هغه سوچ كوي كه د ګيرې خريلو په حالت كښې مرګ راغلے وے نو څه به مې كيدل! الله پاک دې د دعوت اسلامي ديني ماحول له ډيره ترقي وركړي، كوم چې د تباهئ د تيارو نه راويستم او د جنت په لاره ئې روان كړم او ظاهر او باطن له ئې داسې مدني رنګ وركړو چې اوس د هغه كور والا بلكه نور خپلوان هم د دعوت اسلامي د بركتونو قائل شوي دي.

اگر سُنّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ | تم آجاؤ دیگا سکھا دینی ماحول
تُو داڑھی بڑھالے عمامہ سجالے | نہیں ہے یہ ہرگز بُرا دینی ماحول
سَنور جائے گی آخِرت اِن شاءَ اللہ | تم اپنائے رکھو سدا دینی ماحول

(وسائل بخشش، ص604)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مرګ نه پس خطرناک منظر

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! او اے عاشقانِ رَسُول!** دا وعده اوكړئ: كه هر څومره سختئ برداشت كول وي د مكي مدني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښكلي ښكلي سنت ګيره مباركه مستقل پريښودل او قبر ته هم د ځان سره وړل دي. ياد ساتئ! ګيره خريل او د يو موټې نه كمول دواړه حرام دي. د دعوت اسلامي د مكتبة المَدينه د رسالے، "كالے بچهو" د 4 صفحې نه شروع كيدونكے زړه درزوونكے مضمون بالتصرف وړاندې كولے شي د زړه په غوږونو ئې واورئ: اے غافله اسلامي وروره! لږ په هوش كښې راشه!! د مرګ نه پس به ستا هيڅ خبره نه اوريدے كيږي، ستا نازونه وړونكي به ستا نه جامې هم

اوباسي. كه ته هر څومره سرمايه داره ولې نه ئې، تا ته به هم هغه د لَټې كفن اغوستلے شي كوم چې په فټ پاټه باندې وفات كيدونكي وارث نه لرونكي ته اغوستے شي. ستا موټر به هم په ګيراج كښې ولاړ پاتې شي. ستا جامې به په صندوق كښې هم داسې پاتې شي. ستا په مال دولت او په ګټه وټه به وارثان قبضه اوكړي. "خپلوان" به دې اوښكې توئيوي، "پردي" به خوشحالي كوي. ستا نازونه وړونكي به تا په خپلو اوګو كړي او داسې شاړې ته به دې يوسي چرته چې به تۀ كله هم په خطرناكه خاموشۍ كښې خاص طور د شپې په تيارۀ كښې يواځې نه ئې تلے نه به تللے شوې بلكه د هغې د تيارې نه به هم ويريدلې. بيا به تا په خاورو كښې دفن كړي او ستا ټول خپلوان به لاړ شي، ستا سره يوه شپه خو ډيره ده يوه ګهنټه به هم څوک د كښيناتو د پاره تيار نه وي. كه ستا نازولے څوي ولې نه وي، هغه به هم تښتي. تۀ به په آرماني نظر خپلوان او دوستان د سترګو پناه كيدونكي وينې، زړه به دې غورځيږي. په دې كښې به دوه خطرناک شكل لرونكي فرښتے (منكر او نكير) په خپلو اوګړدو اوګړدو غاښونو د قبر د ديوالونو شلولو سره ستا مخې ته موجود وي، د هغوئې د سترګو نه به د اور لمبې خيژي، تور تور هيبت ناک ويښته به د سر نه تر ښپو پورې زوړند وي، تا به په زوره كښينوي، په ډيره سخته لهجه كښې به داسې پوښتنې كوي: "مَنۡ رَّبُّكَ ؟" (يعنې ستا رَبّ څوک دے؟) "مَا دِيۡنُكَ؟" (يعنې ستا دين څه دے؟) په دې كښې به ستا او د مدينے ترمينځه ټولې پردے اوچتې كړے شي د چا ډير ښكلے او دلربا او خوږ خوږ صورت به تاسو ته رامخې ته شي، يا به هغه عظيمه او ښكلې هستي پخپله تشريف راوړي. څه عجب! چې ستا سترګے د شرم نه ټيټې شي! كيدے شي چې ته په سوچ كښې ډوب شې چې سترګې

پورته کړم نو څنګه ئې پورته کړم! خپل خراب شکل اوښائيم نو څنګه ئې اوښائيم! دا خو هم هغه مدني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے د چا چې به ما کلمه لوستله، خپل ځان ته به مې د هغه غلام هم وئيلو، خو ما د محبتِ رسول د نښے خپلې ګیرې سره دا څه اوکړل! خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو دا فرمائيل: ”بريت ښه واړه کړئ او ګیرې پريږدئ او د يهوديانو په شان شکل مه جوړوئ.“ (شرح معاني الآثار للطحاوی، 28/4) خو هئ زما بدبختي! زه د يو څو ورځو د دنيا په ښکلا کښې ورک شوم، فيشن زه تباه کړم، آه! د آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سختئ سره د منع کولو باوجود ما خپله ګیره اوخريله او خپل مخ مې د يهوديانو يعنې د مدني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دښمنانو په شان کړو! اوس به څه کيږي! هسې نه چې داسې اوشي چې زما د خراب شکل ليدلو سره سرکار عالي وقار صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخ واړوي او دا اوفرمائي چې ”دا خو زما دښمنانو والا مخ دے زما د غلامانو والا نه!!“ خدائے دې نکړي که داسې اوشول نو سوچ اوکړه هغه وخت به په تا څه تيريږي!

نہ اُٹھ سکے گا قیامت تلک خدا کی قسم | اگر نبی نے نظر سے گرا کے چھوڑ دیا

داسې به نه کيږي، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيم! هيڅ کله به نه کيږي. اوس خو لا ژوندي يو، اومنه! په خپل کمزوري بدن باندې رحم اوکړه! سمدستي راپاڅه! همت اوکړه! انګريزي فيشن او فرنګي تهذيب له درې طلاقه ورکړه او خپل مخ په ښکلې ښکلې ګیره باندې ښکلے کړه او يو موټے ګیره پريږده. هيڅ کله هم د شيطان په دهوکه کښې مه راځه او دې وسوسو ته پام کوه چې ”اوس خو لا زه د دې قابل شوے نه يم، زما لا عمر څه دے! زما سره دومره علم چرته دے! که چا د دين په باره کښې پوښتنه اوکړه نو ما له به جواب نه راځي زه خو چې کله قابل شم هغه وخت به ګیره پريږدم.“ ياد ساته! دا د شيطان د ټولو نه کامياب ګزار دے چې انسان د ځان باره کښې دا اوګڼي چې ”آو! اوس زه قابل شوے

يم.“ ياد ساتئ! خپل ځان ”قابل“ ګڼل دا د ”ناقابليت“ د ټولو نه لوئي دليل دے. عاجزي اختيار کړه! لوئے لوئے علمائے کرام هم د هر سوال جواب نه ورکوي نو آيا د هر سوال د جواب ورکولو تا ذمه واري اخستې ده؟ د نفس په حيلو کښې مه راځه! او اومنه، که مور دې منع کړي، پلار دې منع کړي، معاشره دې مخې ته راشي، په واده کښې خنډ پيدا شي. که هر څه اوشي د الله پاک او د هغه د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم حکم منل دي، باور لره! که جوړه په لوح محفوظ ليکلے شوې وي نو ستا واده به خامخا کيږي او که نه وي ليکلے شوې نو د دنيا يو طاقت هم ستا واده نشي کولے. په ژوند څه باور؟

## د ګيرې خريلو سره مرګ

چا سګِ مدينه عَفِيَ عَنه (راقم الحروف) ته څه داسې واقعه بيان کړې وه چې په بنګله ديش کښې يو ځلمي ګيره پريښودې وه، کله چې د هغه د واده وخت رانزدې شو نو والدينو په ګيره خريلو مجبوره کړو. په نه زړه د نائي خوا له لاړو او د ګيرې خريلو نه پس کور ته را روان وو چې د سړک نه بل اړخ ته د اووختو په وخت يو تيز رفتاره ګاډي اووهلو، هغه مړ شو او د هغه د واده آرمان د خاورو سره خاورې شو، مور پلار بچ نکړے شو! نه ئې واده اوشو او نه ئې ګيره پاتې شوه. نو **خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** په هوش کښې راشئ! په الله پاک باندې باور ساتئ او هم د نن نه د ګيرې خريلو نه توبه کړئ او وعده اوکړئ چې د تاجدارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په محبت کښې سر خو کټ کيدے شي خو اوس زما ګيره د دنيا يو طاقت هم نشي جدا کولے. شاباس......! مبارَک ......! مبارَک ...... !! مبارَک !!!

اُن کا دیوانہ عمامہ اور زلف و رِیش میں     واہ ! دیکھو تو سہی لگتا ہے کتنا شاندار

(وسائل بخشش، ص399)

## د ګيرو خريونکو نه د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نفرت عبرتناکه واقعه

سکِ ايران خسرو (پرويز) ته چې کله د حضرت عبد الله بن حذافه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لاس د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دعوت خط مبارک اورسيدو نو هغه ګستاخ رسول خط والا ليدلو سره د غصے نه شهيد کړو او هغه بد زبانه بکواس اوکړو: (..... د پرويز د بے ادبئ جملے نقل کولو توان نه لرم، ځکه حذف کولے شي.....) د دې نه پس سکِ ايران خسرو (پرويز) باذان خوک چې په يمن کښې ګورنر وو او د عرب ټول ملک د هغه په اقتدار کښې ګڼلے کيدو ته دا حکم اوليږلو چې.... (دلته هم د سګ ايران پرويز بکواس حذف کولے شي) باذان يوه فوځي دسته اوټاکله، د کومې د افسر نوم چې خَرخَسَّره وو. د دې سره سره د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اثر او رسوخ باندې د نظر اچولو د پاره ئې يو ملکي افسر هم د هغه سره کړو د کوم نوم چې بَانوِيه وو. دا دواړه افسران چې کله د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر شول نو د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت د رعب په وجه د هغوئي د ختے رګونه په رپيدو شول. دا خلق آتش پرست [د اور عبادت کوونکي] (پارسي) وو. ځکه ئې ګيرې خريلې او بريتونه ئې دومره اوګږده وو په کومو چې د هغوئي شونډې پټې وې او بادشاه پرويز ته به ئې "رب" وئيلو. د دوئي د مخونو ليدلو سره آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته تکليف اورسيدو، په بيزارئ سره ئې اوفرمائيل: "په تاسو دې هلاکت وي چې د داسې شکل جوړولو تاسو ته چا وئيلي دي؟" هغوئي جواب ورکړو: "زمونږه رب پرويز." خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "خو زما رب ما ته حکم کړے دے چې ګيرې اوګږدې کړئ او بريت کټ کړئ." (تاريخ الخميس، 2/35، فتاوىٰ رضويه، 22/647 ملخصاً)

## د قيامت زړه درزوونكې نظاره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په دې واقعه باندې غور اوكړئ! كه پوهه شوي پرې نه ئې نو بيا ئې اولولئ! ښه غور پرې اوكړئ! دوه داسې كسان كوم چې لا غير مسلمه دي مسلمانان شوي نه دي. د شريعت د احكامو نه خبر هم نه دي. خو هغوئي د فطري وضع سره زياتے اوكړو، د مخ قدرتي حسن ئې برباد كړو. د سركار عالي وقار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په طبيعت مبارك باندې دا عمل (يعنې ګيره خريل) ښه اونه لګيدو او د رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن كيدو باوجود ئې اوفرمائيل: "په تاسو دې هلاكت وي." لږ سوچ اوكړئ! غور اوكړئ! كله چې د قيامت په ميدان كښې ټول راجمع وي، د نفسي نفسي حالت وي، مور د خپل ځوي نه او ځوي د خپل پلار نه تښتي، هغه وخت خو به بس يو پاك ذات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وي كوم چې به د ګنهګارانو اميد وي، د هغه سركار نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت اقدس كښې به ټولو ته حاضريدل وي. ياد ساتئ! څوك چې په كوم حال كښې مړ شي، هم په هغه حال كښې به د قيامت په ورځ راپاڅولے شي. ګيرې والا به د ګيرې سره راپاڅي او ګيرې خريلو والا به د خريلې ګيرې سره راپاڅي.

اے د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سنت د خپل مخ نه لرې كولو والؤ! كه رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو نه پوښتنه اوكړه: "آيا ته زما سره محبت كوې؟" ظاهره ده انكار خو كولے نشې، هم دا به عرض كوئ: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو زمونږ هر څه ئې، مونږ تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل مور پلار، مال او دولت هر څه نه ګران ګڼو. سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږ به په دُنيا كښې په خوشحالئ دا عرض كولو:

مِرے تو آپ ہی سب کچھ ہیں رَحمتِ عالَم!
میں جی رہا ہوں زمانے میں آپ ہی کے لئے

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زمونږ د بے تابئ حالت خو دا وو چې د ناقلاره كيدو سره به

مو عرض کولو:

غلامِ مصطفٰے بن کر میں بِک جاؤں مدینے میں
محمد نام پر سَودا سرِ بازار ہو جائے!

اے آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! چې کله به محبت لړ ډير په جوش کښې راغے نو تر دې پورې به مو وئيل:

جان بھی میں تو دے دوں خدا کی قسم! کوئی مانگے اگر مصطفٰے کے لئے!

د دې هر څه اوريدو سره (الله پاک دې نه کړي) آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرض کړه دا اوفرمائي: اے زما غلامانو! که واقعي تا مونږ د مور پلار، مال او دولت هر څه نه ګران ګڼلو او صرف زما په خاطر ژوندي وئ. د دې سره سره زما په نوم باندې خرڅيدو بلکه د ځان قربانولو د پاره تيار وئ نو بيا آخر څه وجه وه چې زما د دښمنانو په شان شکل کښې ګرځيدئ؟ آيا تاسو ته زما ارشادات نه وو در رسيدلي چې

﴾1﴿ "بريت ښه واړه کړئ او ګيرې اوګږدې کړئ او د يهوديانو په شان شکل مه جوړوئ." (شرح معانی الآثار للطحاوی، 28/4)

﴾2﴿ "څوک چې زما سنت اختيار کړي هغه زما او څوک چې زما د سنت نه مخ واړوي هغه زما نه دے." (تاريخ ابن عساكر، 127/38)

﴾3﴿ څوک چې زما په سنت باندې عمل اونکړي هغه زما نه نهٔ دے."

(ابن ماجه، 406/2، حديث:1846)

## که آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خفه شو نو.....!

په فيشن باندې مئينو! د دې ارشاداتو د يادولو نه پس که خدائے دې نکړي خوږ

آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خفه شو نو بيا به تاسو څه كوئ؟ د چا دروازې ته به ګښينئ او فرياد به كوئ؟ د چا دروازې ته به د شفاعت د خير غوښتلو د پاره ځئ؟ اوس موقع ده، تر څو چې ساه باقي ده وخت شته، زر توبه كړئ، خپل مخ د خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ښكلو سنتو باندې ښكلې كړئ، په خپل مخ باندې د محبت نښه پريږدئ. دا خوش فِهمي ختمه كړئ چې اوس لا عمر څه دے؟ وروستو به ئې پريږدو، د واده نه پس به ګورو!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د شيطان په چكر ګښې مه راځئ! هغه كه د هر څومره نزدې خپل په ژبه تا ته د دې باور كولو كوشش كوي چې اوس لا ستا عمر د ګيرې پريښودو نه دے شوے، وروستو به ئې پريږدې. يقين اوكړئ دا د شيطان ډير غټ او خراب ګزار دے، په دې ګزار باندې هغه مردود پته نه لګي چې څومره تباه كړل. راځئ! تاسو ته يوه عبرتناكه واقعه اوروم.

## د مرګ نه مخكښې شامت

يو ځلمي كم او زيات پوره كال د "دعوت اسلامي" د سنتو ډک ديني ماحول سره تړون اوساتو او ګيره ئې هم پريښوده. بيا ئې پته نه لګي څه سوچ وو! كيدے شي غلط دوستان ورته ميلاؤ شول. د جُمعے په شپه د كراچئ د سنتو هفته واره د سنتو اجتماع ته هم حاضر نه شو. د جُمعے په ورځ د دوستانو سره د سيل سپاټې د پاره د سمندر غاړې ته لاړو. او آه! د ګيرې خريلو نه صرف 15 منټه پس په سمندر ګښې ډوب شو او مړ شو.

ملے خاک میں اہلِ شاں کیسے کیسے | مکیں ہو گئے لا مکاں کیسے کیسے
ہوئے نامور بے نشاں کیسے کیسے | زمیں کھا گئی نوجواں کیسے کیسے!
جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے | یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

## د فيشن پرستو د صحبت نحوست

د هغه مرحوم ځلمي عمر به تقريباً شل كاله وي، څه عمر ئې وو! د چا خبره كيدے شي د ګيرې پريښودو عمر ئې لا هم نه وو راغلے! ځكه خو ئې د وفات كيدو نه صرف پينځلس ورځې مخكښې ګيره خو نه وه خريلې! نه هيڅ كله هم نه، بس د هغه نصيب! د غلط صحبت اثر! الله پاک دې مرحوم اوبخښي. دې ډوب شوي ځلمي زمونږ د ټولو د راپارولو د پاره لوئے عبرت پريښودو! څوک چې د دعوت اسلامي نه د لرې كيدو سوچ كوي يا د سيل سپاټو شوق لرونكو سره دوستي كوي، هغوئي له پكار دي چې په دې عبرتناكه واقعه ښه پوره غور اوكړي چې هسې نه زه هم د نورو د پاره د عبرت ذريعه جوړ نشم! هسې نه چې زما دا فيشن پرست ملګري يخپله هم ډوب شي او ما هم ډوب كړي! او غور دې اوكړي چې هسې نه زما د ژوند ورځې پوره شوې وي او په دې وجه شيطان خپل پوره زور په ما باندې استعمالوي، هسې نه د يو څو ورځو د غلط صحبت د نحوست په ذريعه هغه زما د ټول عمر خوارې ضائع نه كړي. د بے لمَانځو په صحبتونو كښې كښيناستونكو! خبردار!!! ربُّ الْاَنام په سيپاره7 سُوْرَةُالْاَنْعَام آيت نمبر 68 كښې ارشاد فرمائي:

﴿ وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۶۸﴾ ﴾

" مفهوم ترجمۀ كنز الايمان: او كه چرې ستا نه شيطان هير كړي نو په رايادېدو د ظالمَانو سره مه كښينه"

## ګيره صرف د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوښې پريږده

اے د مدني محبوب صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مينه والو! اومنئ! په خپله ځوانئ تكبر مه كوئ! دنيائي مجبورئ حيله مه جوړوئ! راشئ! راشئ! اے عاشقانِ رَسُول! راشئ! د رسول اكرم

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم لمَن اونيسئ! د هغوئي د پروردګار، رَبِّ غفار نه هم بخښنه اوغواړئ. د هغه نه هم معافي اوغواړئ! دا بارګاه کرم والا بارګاه ده، د دې ځائے نه به څوک سوالګير مايوسه نه ځي، د سنت خيرات واخلئ، د خپل مخ په ذريعه د خدائے او د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دښمن د نحوست علامت د هميشه هميشه د پاره وينځئ او ښکلي سنت په مخ باندې پريږدئ. او آو! خيال کوئ! شيطان ډير مکار دے، هسې نه چې تاسو د انګريزانو او يهوديانو نه خو ځان راخلاص کړئ او ګيره هم پريږدئ خو شيطان مو د بل طرف نه بيا ګير کړي او تاسو د فرانسيسيانو په ښپو کښې اوغورځوي. مطلب دا چې هسې نه "فرنچ کټ" يعني وړه ګيره مه پريږدئ چې ګيره خريل او د کمولو سره د يو موټې نه وړه کول دواړه حرام دي. ګيره پريږدئ او ضرور ئې پريږدئ خو د خوږ خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوښې مطابق ئې پريږدئ يعني يو موټے ئې پوره پريږدئ.

## د ګيرې خريلو 30 شامتونه

په فتاوىٰ رضويه جلد 22 کښې د ګيرې خريلو او د يو موټې نه د وړې کولو په غندنه کښې "لَمْعَةُ الضُّحٰى فِي اِعْفَاءِ اللُّحٰى" نومې يوه رساله ده او د هغې رسالے په آخره کښې يعني د فتاوىٰ رضويه جلد 22 په صفحه 675 نه تر 676 باندې د ګيرې د خريلو او د يو موټې نه د وړې کوونکو په باره کښې د قرآن او حديث په رڼا کښې د 30 سزاګانو، وعيدونو او غندنو لسټ درج کړے شوے دے: (د مضمون اوګرديدو په وجه حوالے حذف کړے شوې دي، څوک ئې چې کتل غواړي هغوئي دې هلته اوګوري)

❁ ګيره خريوونکي د اللّٰه او د رسول جَلَّ جَلَالُهٗ وَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نافرمانه دي ❁ د شيطان لعين محکوم (ماتحت) دي ❁ سخت بيوقوفان دي ❁ اللّٰه (پاک) د دوئي نه بيزاره دے ❁ رسولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترينه بيزاره دے ❁ رسولُ اللّٰه

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم به داسې شکل لیدل نه خوښول ❁ یهودي شکل دے ❁ نصراني وضع ده د فرنګیانو سره مشابه (یعنې یو شان) دے ❁ د **مجوس** (آتش پرستو [د اور عبادت کوونکو] ) په نقشِ قدم باندې دي ❁ د هندوانو شکل او د مشرکانو سیرت دے ❁ د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د ډلې نه نهٔ دي ❁ هم د هغو خپلو هم شکلو نصارىٰ او یهودو او **مجوس** او هنود د ډلې نه دي ❁ **واجِبُ التَّعزیر** (یعنې د سزا لائق) دي د ښار نه د ویستلو قابل دي ❁ مُبَدِّلِینِ فِطرت (یعنې فطرت بدلوونکي) دي، **مُغَیّرُ خَلقِ الله** (یعنې د الله جوړولو والا ورانوونکي) دي ❁ زَنانے **مُخَنَّث** (یعنې هیجړاګان) دي ❁ د خدائے وعده ماتوونکي دي ❁ ذلیله او خوار دي ❁ ناوړې د نفرت قابل دي ❁ مردودُ الشَّهادة (یعنې د ګواهۍ لائق نه) دي ❁ په اسلام کښې پوره داخل نه شول ❁ په هلاکت کښې دي، د بربادۍ حقدار دي ❁ په دین کښې **محرومه** او په آخرت کښې بدنصیبه دي ❁ د عذابِ الٰهی منتظر دي ❁ د الله پاک سخت دښمنان او مبغوض دي ❁ که سحر دے نو د الله پاک په غضب کښې، که ماښام دے نو د الله پاک په غضب کښې ❁ د قیامت په ورځ به د دوئي شکلونه ورانولے شي ❁ د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ملعون دي، په دنیا او په آخرت کښې ملعون (لعنت کړے شوي) دي، د الله او فرښتو او انسانانو د ټولو په دوئي باندې لعنت دے، فرښتو د دوئي په لعنتي کیدو اٰمین اووئیلو ❁ الله پاک به دوئي ته د رحمت نظر نه کوي ❁ دوئي به جنت ته نه ځي ❁ الله پاک به دوئي دوزخ ته غورځوي **وَالعِیاذُ بِاللّٰهِ تعالٰی** (یعنې او (د هغې نه) د الله پاک پناه)

مکرِ شیطاں میں مت آؤ بھائیو! رخ پہ تم داڑھی سجاؤ بھائیو!

چھوڑو فیشن مان جاؤ بھائیو! خود کو دوزخ سے بچاؤ بھائیو!

بالیقیں دنیا بڑی ہے بیوفا اِس سے تم مت دل لگاؤ بھائیو!

## زه ډېر د خراب کردار مالک ووم

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د محبتِ رسول نښې ګېره اوګږدولو جذبې موندلو، د عمامې شريف په سر کولو شوق زياتولو، د عشقِ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جذبه کښې د زلفو پرېښودو د سنت پوره کولو، د سنت مطابق د جامو په اغوستلو باندې د استقامت موندلو او د قرآن کريم زده کولو ښودلو د پاره د دعوت اسلامي د ديني ماحول لمَن هر وخت اونيسئ. د سنتو په مدني قافلو کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ او د نيک اعمال مطابق د خپل ژوند شپې او ورځې تيروئ. ستاسو د رغبت د پاره يو مدني سپرلے وړاندې کولے شي.

د کراچۍ اوسيدونکے اسلامي ورور ديني ماحول ته د راتللو نه مخکښې ډېر د خراب کردار مالک وو، د شپې تر ناوخته پورې به د دوستانو سره په ګپ کښې مصروفه اوسيدلو، نه ورسره د والدينو د عزت فکر وو او نه ورسره د خپل قيمتي وخت د ضائع کيدو احساس، د هغوئي د ژوند هر اړخ ته غفلتونه خواره وو. کور والا د هغه د حرکتونو په وجه ډېر پريشانه وو او د هغه د سمولو په کوشش کښې وو ځکه چې د نيک اولاد سره په معاشره کښې والدين هم په ښه نوم ياديږي. يوه ورځ د هغه ورور د يو عاشق رسول سره د هغه ملاقات اوکړو، هغه د محبت نه په ډک انداز کښې د دعوت اسلامي تحت په هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکړو او په مدرسة المَدينه (بالغان) کښې ئې د داخلے اخستلو رغبت ورکړو د دې سره سره ئې د شريعت په احکامو باندې د عمل کولو برکتونه او فضيلتونه اوښودل. د هغه پوره انفرادي کوشش د هغه په زړه باندې پوره اثر اوکړو او هغه انکار اونکړے شو. هغه په مدرسة المَدينه

(بالغان) کښې داخله واخسته، اَلْحَمْدُلِلّٰه! په مدرسة المَدينه (بالغان) کښې د صحيح مخارجو سره د حروفو د ادائيګۍ سره د قرآن مجيد فرقان حميد د لوستلو سعادت نصيب شو او د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سنت مطابق د ژوند کوونکو عاشقانِ رسول د صحبت په برکت سره ئې د دين سره دومره محبت پيدا شو چې د نن سبا په خرابو حالاتو کښې هم چې هر خوا فيشن پرستي خوره ده د هغه په مخ باندې ګيره او په سر باندې عمامه ده او يواځې پخپله د سنتو مطابق ژوند نه تيروي بلکه د سنتو د خپرولو کوشش هم کوي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! تر دې ليکلو پورې هغه ته د ذيلي مشاورت د نګران په حيث د ديني کارونو ذمه واري ميلاؤ شوې ده.

بُری صحبتوں سے کَنارہ کَشی کر کے
کے اچّھوں کے پاس آکے پاءَدَنی ماحول
تَنزّل کے گہرے گڑھے میں تھے اُن کی
ترقّی کا باعث بناءَدَنی ماحول

(وسائلِ بخشش، ص604)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامي د جامعاتو او مدرسو شمير

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې مدني سپرلي کښې انفرادي کوشش او د مدرسة المَدينه (بالغان) برکتونه ښکاره دي چې د کومو په وجه چې يو لوفر ځلمے په نيغه لار روان شو او نور په دې لاره راوستلو والا جوړ شول. ټولو اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو ته زما مدني خواست دے چې په خپلو خپلو مدرسة المَدينه (بالغان او بالغات) کښې ضرور داخله واخلي او که قرآن کريم مو نه وي وئيلے نو اوئې وائې او که د تجويد سره مو وئيلے وي نو د خپل تنظيمي ذمه وار سره ترکيب جوړ کړئ او نورو ته ئې

اوښائي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما د معلوماتو مطابق تر دې لیک پورې (14رمضان المُبارک 1432ھ/ 15 اگست 2011ء) صرف په پاکستان کښې د حفظ او ناظرے د مدني ماشومانو تقریباً 766 او د مدني جینکو ماشومانو تقریباً 316 مدارس المَدینه چلولے شي په کومو کښې چې د هلکانو او جینکو ماشومانو شریک شمیر تقریباً 72000 دے. د دې سره سره په مدرسة المَدینه بالغان (عموما وخت:د ماسخُتن د لمَانځه نه پس وخت:تقریبًا 40 مِنَټه) شمیر تقریباً 3316 دے او د اسلامي خویندو په مدرسة المَدینه بالغات (عموما وخت:د سحر د 8 بجو نه تر مازدیګره په مختلفو وختونو کښې وخت: 1 ګهنټه او 12مِنَټه) شمیر تقریباً 3938 دے. د دې سره سره (10 رَجبُ المُرَجَّب 1432 ھ.2011-06-12) د اسلامي ورونړو د درس نظامي د جامعات المَدینه شمیر تقریباً 90 او د اسلامي خویندو د جامعات المَدینه شمیر تقریباً 72 دے، د هلکانو طالب علمَانو شمیر تقریباً 6671 او د جینکو طالب علمانو شمیر تقریباً 2841 دے. [1] په دې ټولو جامعات المَدینه (بوائز اینډ ګرلز) او مدارس المَدینه (بوائز اینډ ګرلز) کښې مفت تعلیم ورکولے شي او د دې خرچې د وَس لرونکو اسلامي

---

[1] ... اَلحمدُ لِلّٰهِ الکریم! د جون 2023 مطابق د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي په ټوله دنیا کښې د مدارِسُ المدینه (بوائز، ګرلز) شمیره کمه او زیاته 14,290 ده په کومو کښې چې د لوستونکو هلکانو او جینکو شمیره 4,56,773 ده، د دې مدرسو نه د حفظُ القرآن مکمل کوونکو هلکانو او جینکو شمیره 1,17,588 ده، د ناظره قرآن پوره کوونکو هلکانو او جینکو شمیره 4,76,321 ده، ولې د حفظ او ناظرې پوره کوونکو هلکانو او جینکو شریکه شمیره 5,93,909 ده- دغه شان په ټوله دنیا کښې د جامعات المدینه (بوائز، ګرلز) شمیره کمه او زیاته 1,350 ده، په دې کښې د لوستونکو هلکانو او جینکو شمیره 1,18,613 ده، ولې د فارغ التحصیل هلکانو او جینکو شمیره 28529 ده-

ورونړو د عطياتو نه پوره كولے شي. د هر مسلمان ورور صحيح قرآن كريم لوستل او د فرض ديني علومو سره اشنا كيدل ضروري دي.


## د قرآنِ كريم د تعليم په باره كښې دوه اهم مدني ګلونه

د دعوت اسلامي د مكتبة المدينه د 1250 صفحاتو كتاب، " بهار شريعت جلد اول" صفحه 545 نه تر په 546 باندې دي: ﴿1﴾ د يو آيت حفظ كول په هر مسلمان مكلف (يعنې عاقل او بالغ) باندې فرضِ عين دے او د ټول قرآنِ مجيد حفظ كول فرضِ كفايه او د سورۀ فاتحه او د يو بل وړوكي سورت يا د دې په مثل، مثلاً درې واړه آيتونه يا يو لوئے آيت حفظ، عين واجب دے. (درمختار، 315/2) ﴿2﴾ بقدر ضرورت په فقهې مسائلو پوهيدل فرضِ عين دي او د حاجت نه زياتې (مسئلے) زده كول حفظِ جميع قرآن (يعنې د حافظِ قرآن جوړيدو) نه افضل دي. (ردالمحتار، 315/2)

يہی ہے آرزو تعلیمِ قرآں عام ہو جائے
تلاوت کرنا اپنا کام صُبح وشام ہو جائے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راروانې هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداگران پرانې سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net